## د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا

**موضوع**: د زهرا رحیم ودانیزو چارو، تجارتی او لوژستیکی خدماتو شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک غواړي څو د 50 قلمه مصرفي توکو چمتو او تدارک کولو قرارداد د زهرا رحیم ودانیزو چارو، تجارتی او لوژستیکی خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (70451) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې په پنجصد فامیلي، د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (3،798،908) درې میلیونه اوه سوه اته نوي زره نه سوه او اته افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلي بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به قرارداد منعقد نه شي.